USAID
از طرف مردم امریکا
د امریکا د ولس لخوا



USAID

# د افغانستان د روغتیا سکتور معلوماتي پاڼه

## مخینه

د ۲۰۲۱ زیږدیز کال په اګست میاشت کې د طالبانو له خوا د افغانستان له نیولو وروسته، پر له پسې بشري او اقتصادي ناورینونه هغه ټولنیزې او پراختیایي لاسته راوړنې ګواښوي چې په سختۍ سره په تیرو څه باندې دوه لسیزو کې ترلاسه شوې دي. د افغانانو د شدیدو بشري اړتیاو ترڅنګ، د هغوی بشري حقونه هم له دوامدارو ګواښونو سره مخامخ دي. یاد ګواښونو د روغتیایي خدمتونو په ګدون بنسټیزو خدمتونو ته د افغانانو لاسرسی له خطر سره مخ کړې، د هیواد د پرمختګ دپاره فرصتونه یې محدود کړي، او په نا متناسب ډول یې ښځې، نجونې او نورې محرومې ډلې په ټولنه کې له بشپړ ګدون څخه بې برخې کړې دي.

دا پیچلې ننګونې د روغتیا سکتور په ګدون د افغاني ټولنې په ټولو برخو کې شتون لري. د افغانستان د روغتیا، اوبو او د حفظ الصحې سکتورونه ورځ تر بلې کمزوري کیږي او خدمتونو ته یې د افغان ښځو او نجونو لاسرسی په نا متناسب ډول محدود کیږي. د امریکا د نړیوال پرمختګ د ادارې (USAID) روغتیایي مرستې د افغانستان د کلینیکونو د یوې شبکې له لارې تر سره کیږي چې په ټولیزه توګه د دې هیواد له ۷۰ سلنو څخه زیاتو وګړو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. زموږ په مرستو کې د میندو، ماشومانو او د میندواري روغتیا څخه ملاتړ، د نري رنځ د ناروغي درملنه، د کوید-19 د ناروغي مخنیوی او درملنه، د لازمو روغتیایي توکو چمتو کول او د خصوصي سکتور مشارکت شامل دي. موږ د لومړني روغتیایي خدمتونو، د ګوزڼ د له منځه وړلو، د ناروغیو د څار او چټک غبرګون د ملي سیستم څخه ملاتړ، د ناروغیو پر وړاندې د افغانانو واکسین کولو، د پاکو اوبو، حفظ الحصې او نظافت د تأمینولو په برخو کې د روغتیا د نړیوال سازمان (WHO) او د ماشومانو د ملاتړ صندوق (UNICEF) په ګډون د ملګري ملتونو سازمان د ادارو سره له نږدې نه کار کوو. موږ له معلوماتو څخه په استفادې سره خپل فعالیتونه په آګاهانه ډول طرحه کوو او دخپل فعالیت دپاره داسې موقعیتونه غوره کوو چیرې چې وکولی شو خورا ډیر مثبت اغیز ولرو.

## زموږ لومړیتوبونه او زموږ د فعالیتونو اغیز

د امریکا د نړیوال پرمختګ د ادارې (USAID) روغتیایي مرستې پر دریو بنسټیزو موخو تمرکز کوي: په افغانستان کې د تیرو ۲۰ کلونو د روغتیایي لاسته راوړنو ساتل، د افغانستان په روغتیایي نظام کې ثبات رامنځته کول، او د افغانانو د ټولیزې روغتیا ښه کول. په افغانستان کې د طالبانو له راتګ وروسته د پیچلو او پر له پسې بدلیدونکو شرایطو سره سره، د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره

(USAID) د افغانستان د خلکو پر وړاندې ژمنه پاتې ده او په ټول هیواد کې دوی ته د لازمو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته ادامه ورکوي.

د افغانستان د روغتیايي سیستم پیاوړتیا لا تر اوسه هم یو مهم لومړیتوب ګڼل کیږي ناکافي روغتیایي مرکزونو، د روغتیایي ښځینه کارکوونکو ډیر محدود شمیر او د بنسټیزو تاسیساتو کموالی له اوږدې مودې راهیسې د افغانستان د روغتیا سکتور تر فشار لاندې راولی دی د ۲۰۲۱ زیږدیز کال په اګست میاشت کې افغانستان ته د طالبانو له راتګ وروسته، نوې ننګونې په دې سکتور کې ریښې نیولې دي د نغدو پیسو د کمښت شدید ناورین، د بسپنه ورکوونکو د پانګونې کموالي، او د اټکل نه وړ کاري چاپیریال، د افغانستان له پخوا نه کمزوری روغتیایي سکتور نورهم اغیزمن کړی دی د دې سترو ننګونو سره سره، د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) او نورو بسپنه ورکوونکو شریکانو په ګډه د افغانستان د روغتیا سکتور د سقوط مخه نیولی او د بیړني روغتیایي غبرګون پروګرام )HER' له لارې یې یو د انعطاف وړ روغتیایي سیستم پر پیاوړتیا تمرکز کوي د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق )ARTF' په تمویل، د بیړني روغتیایي غبرګون پروګرام )HER' د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې له څه باندې ۲۳۰۰ روغتیایي مرکزونو څخه ملاتړ کوي ترڅو روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق )ARTF' ترټولو لویه بسپنه ورکوونکې ده او یوازې له ۲۰۱۴ زیږدیز کال راهیسې یې له دې صندوق سره په افغانستان کې د روغتیايي فعالیتونو د تمویل دپاره له ۲۲۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاته مرسته کړې ده

د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د «روغتیا سکتور د موضوعي کاري ډلې» د ګډ مشر په توګه د افغانستان د روغتیا سکتور د ملاتړ په لور دخپلو شریکانو او د نورو بسپنه ورکوونکو د فعالیتونو رهبري کوي. د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID)، نړیوال بانک (WB) او د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) تر مشرۍ لاندې، یاده کاري ډلې د افغانستان د روغتیا سکتور لپاره د یوې نوې انتقالي استراتیژۍ د جوړولو په موخه چې له ۲۰۲۳ کال څخه تر ۲۰۲۵ کال پورې رانغاړي د اړوندو شریکانو فني روغتیایي او پالیسي پورې اړوند بحثونه همغږ کوی. د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) شریکانو د مخکښ لیکوالانو په توګه د ښار د اوسیدونکو د روغتیا، خصوصي سکتور او د نوښت په ګډون د دې استراتیژۍ د دریو فني برخو په طرحه کولو کې برخه اخیستې ده. دا استراتیژي د افغانستان د روغتیا په سکتور کې د بسپنه ورکوونکو هغو استراتیژیکو او عملیاتي پانګونو ته به بنه ورکړي کوم چې د افغانستان د خلکو دپاره د یو دوامداره او د انعطاف وړ روغتیایي سیستم د رامنځته کولو لومړی مهم ګام دی.

## د ۲۰۲۲ کال کلیدي پایلې

- د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق )ARTF' له لارې، د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) له ۲۳۰۰ څخه زیاتو روغتیایي مرکزونو کې د لومړني روغتیایي خدمتونو د کڅوړې او د روغتونونو د لازمي خدمتونو د کڅوړې کیفیت ښه کړی دی.
- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د ۵۶۱۵ روغتیایي کارکوونکو لپاره، چې ۵۴۸ یې په کلیوالو روغتیایي مرکزونو او ۶۵ یې په ښاري روغتیایي مرکزونو پورې اړه لري، د میندو، نوي زیږیدلي او نورو ماشومانو روغتیا، تغذیې، د کورنۍ تنظیمولو، د نري رنځ ناروغۍ او د خلکو د ورځني واکسین کولو په ځیر په څو فني برخو کې د روزنې زمینه برابره کړې ده.
- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د کوید- ۱۹ واکسین د څه باندې ۵.۲ میلیونو دوزونو د ترسره کیدو زمینه برابره کړې ده.
- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) په ۴۷ ښاري روغتیایي مرکزونو کې د تغذیې د خدمتونو ځانګې رامنځته کړې ترڅو ماشومان معاینه او د خوارځواکي درملنې ته یې راجع کړي.
- د اوبو رسولو د نوي او بیارغول شوي وسیلو او سیستمونو څخه په منني سره، په ۴۲ سیمو کې له ۱۰۱۰۰۰ څخه زیات خلک د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی دی
- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداري (USAID) په تمویل او د ملګري ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق )UNICEF' په تطبیق، د اوبو، حفظ الصحي او نظافت د کلیوال پروګرام څخه په منني سره، ۱۱۲۹ سیمې په پرانیستي فضا کې د حاجت له لرې کولو څخه د پاکو سیمو په توګه تثبیتي شوې